AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالله کمال
۲۰۱۹/۰۳/۱۱

# څوک د سولې مخالفت کوي؟

**هغه فاسد او ناژمنه چارواکي، قراردادیان او فرصت غوښتونکي چې پر فساد روږدي دي د سولې مخالفت کوي.**

که د جګړې تېرو ۴۰ کلونو ته وګورو، نو وینو چې امریکي او د هغه متحدانو د خپلو نړیوالو دښمنانو د ناکامولو لپاره یوازې له کوچنیو فرصتونو او د دغه کار لپاره يې له یوشمېر فرصت طلبو او ناژمنو افغانانو ګټه پورته کړې ده. دغه کار په افغانستان کې د امریکې د ناکامی اصلي لامل دی. ځکه په سیمه کې د امریکې د ګټو د ساتلو لپاره په افغانستان کې یو پیاوړي حکومت او له دې حکومت سره ستراتیژیکي ملګرتیا ته اړتیا وه، چې دغه کار یوازې د اصلي استبلشمنټ او ژمنو او ربښتینو چارواکو او د خلکو استازو په شتون کې شونتیا درلوده. په خواشینی سره چې امریکي او ناټو هم له شوروي سره د جګړې پرمهال دغه اصل ته پام ونه کړ او هم يې اوس دغه حکومت چې په وروستیو ۱۹ کلونو کې د دوی په مرسته رامنځته شوی، فساد سالارانو ته وسپاره، چې په دې توګه يې کمزوری وساته او په دې سره يې په افغانستان کې خپله ستراتیژیکي ماتي یقیني کړه.

افغانستان په اتیایمو کلونو کې د سیمه ییزو هېوادونو د ستراتیژیکي انحناوو په مضیقه کې راغی، چې په پای کې د شوروي له یرغل او اشغال سره مخامخ شو. ځکه، هغه مهال افغان چارواکو ونه کړای شول، چې په هېواد کې سیاسي، اقتصادي او پوځي پیاوړتیا رامنځته او په دې سره نظم، امن او ثبات یقیني کړي، نو همدا وو چې د نړۍ د دوو زبرځواکونو یعنې شوروي او امریکې تر شک لاندې راغلې چې ګوندي افغان کمزوری او بې ثباته حکومت به د نړۍ او سیمې د بې ثباتي سبب وګرځي. تر یوه ځایه هغه مهال دغه شک پرځای بربښېده، خو په کار دا وه چې له دغه حکومت سره مرسته شوې او ځان يې پیاوړی کړی وای، نه دا چې دغه هېواد اشغال او حکومت يې تر اسارت لاندې راغلی وای.

سره له دې چې ۴۰ کلونه وشول، خو اوس هم په هېواد کې د نړیوالو زبرځواکونو مداخلې او نیابتي جګړې څه نه دي بدل کړي. له تېرو ۱۹ کلونو د ناټو ځواکونه په افغانستان کې شتون لري، خو جګړه ورځ تر ورځې ورسره توده او سیمه ییز حسیاستونه او مخالفتونه ورسره نور هم زیات شوي دي. د دې وضعیت له ارزوني اوس د حل یوازې یوه لار راوتلې ده، چې هغه هم د افغانانو په ملکیت د سولې خبرې او هغه حکومت او نظام چې د دغه خبرو په پای کې رامنځته کېږي، د نړیوالي تولنې له خوا يې ملاتړ دی.

دغه خبرې اوس پیل شوې دي، تر کومه ځایه چې ښکاري ښې رواني دي، خو فاسدان او فرصت غوښتونکي چارواکي، قراردادیان او زورمندان يې سخت اندېښمن کړي او مخالفت يې کوي. داسې ښکاري چې په دې خبرو کې طالبان د ستونزو ریښو ته متوجه دي، د عمل ابتکار يې په لاس کې اخیستی، په قوت سره خپله خبره مطرح کوي او ورځ تر بلې د استبلشمنټ په توګه تکوین مومي.

د مسکو د وروستی ناستې ګډونوالو په ډاګه کړې، چې په دې ناسته کې طالبانو خپل پخواني ایډیالوژیک چلند او غوښتنو ته بدلون ورکړی، د دوی او طالبانو په غوښتنو کې تر ډېره یورنګوالی موجود دی او په دې سره له طالبانو سره په سوله کې کوم خنډ نه ویني.

د دې څخو تر څنګ د سولې او هېواد د دښمنانو اندېښنه هم ورځ تر بلې زیاته شوې، کله له یوه او کله له بل تریبونه په بېلابېلو نومونو او برساماتو سره یوازې خپله تشه وېره څرګندوي او غواړي ورسره ولسونه منحرف کړي، خو دغه کار ورته څکه ګټه نه کوي، چې ولس پوهېږي اوبو وړي هسې هم د اوبو څړ ته لاس اچوي.

په داسې حال کې چې ټول ولس د سولې خبرو ته هیلمن دی، خو سوله لا هم یقیني نه ده. ځکه، که له یوه پلوه سوله د نړیوالو او سیمه ییزو هېوادونو له هوکړې سره تړلې، له بل پلوه، د افغان مشرانو له ځیرکتیا او بیدارتیا سره هم تړلې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ځکه، افغان مشران باید له یوې خوا د ستونزې هواري ته داسې یوه لار وړاندې کړي چې عملي او د ولس له ملاتړه برخمنه وي او هم بهرنیانو ته د امن او سلامتیا تضمین ورکړای او له بلې خوا له بهرنیانو د ملاتړ او نه مداخلې تضمین ترلاسه کړای شي.
په تېر کې هم څو ځله د سولې لپاره هڅه شوې او د سولې فرصتونه رامنځته شوي، لکه د ډاکټر نجیب الله د حکومت په پرځولو سره د مجاهدینو د حکومت رامنځته کېدل، ورپسې د طالبانو امارت، اوس اوس د ناټو په ملاتړ تېر ۱۹ کلن حکومت، خو دغو ټولو هڅو نتیجه نه ده ورکړې او سبب دا دی چې بهرنیان باور پر باداری او مداخله لري، افغان سیاستوال د واک انحصار، غلامي او ملت ځپنې ته هڅوي او ټېل وهي. معنا دا چې یوازې د سولې له فرصت نه افزاري ګټه پورته شوې، خو د سولې ادامې ته چې تر ټولو سخت پړاو او د سیاست په وړاندې سخته ننګونه ده، کار نه دی شوی.
جګړه مارانو او انحصارګرانو نور باید له تاریخ نه درس اخیستی وي، چې د سولې د خبرو پرمهال د انحصار هڅه و نه کړي او واک یوازې د ولس لپاره وغواړي.
اوس هم د سولې په خبرو کې یوه ژوره اندېښنه شته، تر کومه ځایه چې ښکاري د سولې په خبرو کې طالبان د استبلشمنټ په توګه جلوس کوي، خو دا چې طالبان به په راتلونکي کې په رښتیني ډول دغه رول ادا کړای شي که نه، لا هم د یوې پوښتنې په توګه پاتې ده. که څه هم داسې یوه خوش باوري شته چې ګوندې په واک کې د طالبانو په راتګ سره به فساد او فاسد چارواکي له منځه لاړ شي، نظام به د عدالت پر پل ورسم شي او طالبان به د خپل حکومت لپاره له ملت پالانو کار واخلي، خو بیا هم د دغه کار لپاره کوم تضمین نشته او دا وېره هم شته چې کېدای شي یو شمېر طالب مشران لکه اوسنیو اکثرو چارواکو غوندې د بهر پالنې، غلامۍ او فساد لار خپله کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ